DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

جوزجان
د پایلې لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸


د جوزجان ولایت ٪۳۹ نفوس په شان دا کورنۍ هم د خپل کور د داخلي بېځایه شویو په توګه پرېږدي ترڅو وکولای شي بل ځای کې لا ښې سرچینې او فرصتونه ومومي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement. iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۱** ولسوالۍ وارزول شوې
**۳۲۷** کلي وارزول شول

**۱،۷۹۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۸۶،۹۴۵**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۳۸،۰۰۴**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۰۸،۴۹۲**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۵۹،۴۰۷**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۸،۷۵۱**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ٪۲۴)

**۱،۱۵۰**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۲**
کسان په جوزجان ولایت کې یا داخلي بېځایه شوي دي او یا هم راستنېدونکي - جوزجان ولایت د هېواد په کچه د داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو څلورم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۵ څخه ۳**
٪۶۴ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي کسان په شبرغان ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۱۱۴،۳۶۳**
کسان د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري - جوزجان ولایت د هېواد په کچه د څښاک اوبو دوم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۲۱۷،۰۰۰**
کسان روغتیایي خدماتو ته هېڅ لاسرسی نلري - جوزجان ولایت د هېواد په کچه روغتیایي مرکزونو ته د اړتیا دوم تر ټولو لوړ شمېر لري

**۱۱۴،۶۴۴**
کسان بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري - جوزجان ولایت بازارونو ته د هېواد په کچه دوم تر ټولو لوړ شمېر لري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنیدونکي + راسپدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي | د نفوس سلنه | راسپدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شبر غان | ۱۸۴,۹۶۴ | ۲۷۲,۹۰۵ | ٪۶۰ | ۱۰۲,۵۹۴ | ٪۲۲ | ۳۸,۱۸۹ | ٪۲۱ | ۱۷۰,۳۱۱ | ٪۳۷ | ۳۳,۶۲۶ | ٪۱۸ | ۵۸,۵۸۰ | ٪۳۲ |
| منګجک | ۴۶,۸۳۵ | ۱۱,۴۹۱ | ٪۲۰ | ۵,۴۷۲ | ٪۹ | ۱۴,۷۸۳ | ٪۳۲ | ۶,۰۱۹ | ٪۱۰ | ۵,۲۶۱ | ٪۱۱ | ۷,۳۲۴ | ٪۱۶ |
| خواجه دوکوه | ۲۹,۳۸۵ | ۷,۴۴۳ | ٪۲۰ | ۵,۳۳۳ | ٪۱۴ | ۴,۳۶۶ | ٪۱۵ | ۲,۱۱۰ | ٪۶ | ۳,۸۷۴ | ٪۱۳ | ۱۰,۸۸۶ | ٪۳۷ |
| قوش تیپه | ۲۵,۶۶۱ | ۲۸,۸۰۵ | ٪۵۳ | ۱۱,۴۴۵ | ٪۲۱ | ۴۲,۱۴۴ | ٪۱۶۴ | ۱۷,۳۶۰ | ٪۳۲ | ۱۷,۶۴۷ | ٪۶۹ | ۱۲,۰۴۲ | ٪۴۷ |
| فیض آباد | ۴۵,۴۲۴ | ۲۵,۷۰۶ | ٪۳۶ | ۲۰,۱۱۹ | ٪۲۸ | ۱۴,۲۷۴ | ٪۳۱ | ۵,۵۸۷ | ٪۸ | ۱۰,۰۶۸ | ٪۲۲ | ۱۰,۴۵۱ | ٪۲۳ |
| خانقاه | ۲۵,۴۰۶ | ۲۵,۳۵۲ | ٪۵۰ | ۱۱,۴۰۸ | ٪۲۲ | ۲۱,۵۳۴ | ٪۸۵ | ۱۳,۹۴۴ | ٪۲۷ | ۵۵,۲۱۶ | ٪۲۱۷ | ۹,۱۲۱ | ٪۳۶ |
| آقچه | ۸۳,۹۳۰ | ۲۹,۰۲۴ | ٪۲۶ | ۱۱,۸۲۵ | ٪۱۰ | ۲۹,۴۴۲ | ٪۳۵ | ۱۷,۱۹۹ | ٪۱۵ | ۴۶,۷۳۹ | ٪۵۶ | ۲۰,۸۳۷ | ٪۲۵ |
| مردیان | ۴۲,۰۸۸ | ۸,۴۸۰ | ٪۱۷ | ۷,۸۱۵ | ٪۱۵ | ۱۰,۴۸۹ | ٪۲۵ | ۶۶۵ | ٪۱ | ۳,۸۹۴ | ٪۹ | ۱۲,۴۱۳ | ٪۲۹ |
| قرقین | ۲۷,۱۶۸ | ۲,۱۷۱ | ٪۷ | ۱,۳۸۷ | ٪۵ | ۱,۰۲۰ | ٪۴ | ۷۸۴ | ٪۳ | ۱۰۷ | ٪۰ | ۱,۳۶۸ | ٪۵ |
| خمیاب | ۱۵,۲۶۹ | ۸۱۷ | ٪۵ | ۷۴۷ | ٪۵ | ۷۳۵ | ٪۵ | ۷۰ | ٪۰ | ۳۵ | ٪۰ | ۷۰۸ | ٪۵ |
| درزآب | ۵۳,۷۰۳ | ۱۲,۷۵۵ | ٪۱۹ | ۸,۸۰۰ | ٪۱۳ | ۵۱,۱۳۱ | ٪۹۵ | ۳,۹۵۵ | ٪۶ | ۳۲,۰۲۵ | ٪۶۰ | ۱۵,۶۷۷ | ٪۲۹ |
| مجموعه | ۵۷۹,۸۳۳ | ۴۲۴,۹۴۹ | ٪۴۲ | ۱۸۶,۹۴۵ | ٪۱۹ | ۲۲۸,۱۰۷ | ٪۳۹ | ۲۳۸,۰۰۴ | ٪۲۴ | ۲۰۸,۴۹۲ | ٪۳۶ | ۱۵۹,۴۰۷ | ٪۲۷ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل   سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰   د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



ډېرى وخت داخلي بېځايه شوي کورنۍ منفي ميکانيزمونو ته مخه کوي ترڅو د ستونزو پر وړاندې ودرېږي او د خپل د ژوندانه اړتياوې لاس ته راوړي، لکه په جوزجان ولايت کې د دې داخلي بېځايه شويو ماشومانو په شان چې شوونځى ته د تګ پر ځاى ستونزمن کارونه ترسره کوي. لکه څرنګه چې ليدل کېږي دوى د خښتو جوړونې په يوې کار خونې کې کار کوي تر څو د خپل د کورنۍ د ژوندي پاتې کېدلو لپاره مرسته وکولاى شي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلارې

د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیسټم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړې د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیټې معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلېټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تري کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا تر ټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلي د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوسکتوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په جوزجان ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۱۴٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۴٪) په پرتله پرمختګ ښیي .

**۱،۷۹۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۴۱**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنېدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۸٪)

**۲۵۸**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۴٪)

**۲۹۶**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪)


**۱،۵۴۱**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۸۶٪)

**۳۹۵**
خوسکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۲٪)


**۵،۵**
په هره ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۵۷۰**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۲٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | جوزجان




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | جوزجان



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یي د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه جوزجان ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ٪۱۱ کموالی ښیي او په ۲۰۱۷ کال کې هم ډېر لږ کموالی ښیي.سر بېره پر دې په ۲۰۱۸ کال کې هم ٪۴ کموالی ښیي.

**۱۸۶،۹۴۵**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي

**۷۷،۹۲۰**
پاکستان څخه راستنېدونکي (٪۴۲)


**۹۵،۵۴۵**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنیدونکي (٪۵۸)

**۸۶،۱۲۲**
ایران څخه راستنیدونکي (٪۴۶)


**۶۸،۴۹۷**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنیدونکي (٪۴۲)

**۲۲،۹۰۳**
غیر ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیدونکي (٪۱۲)


بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | جوزجان





بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | جوزجان





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | جوزجان





اروپا او ترکیه څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | جوزجان




ایران څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | جوزجان




پاکستان څخه راستنېدونکي | کلنی بهیر | جوزجان



# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کورېو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۲۳۸،۰۰۴**
په کورېو تولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۸۱٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۱۷۰،۳۱۱**
شبرغان ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۹٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۵،۲۵۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۲٪)

**۷۱٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | جوزجان





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | جوزجان




د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | جوزجان




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | جوزجان




# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)

پـه عمومـي توګـه جوزجـان ولايـت لـه ټولټـال ۴۲۴،۹۴۹ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخـه کوربـه تـوب کـوي چـې ۴۴٪ (۱۸۶،۹۴۵ کسـان) راسـتنېدونکي او ۵۶٪ (۲۳۰,۰۰۴ کسـان) داخـلي بېځايـه شـوي دي. پـه لانـدې جدول کې د جوزجـان ولايت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زياتـو بېځايـه شـويو او راسـتنېدونکو راتـګ څخـه اغيزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د جوزجـان ولايـت ۳۲۷ ارزول شـويو کليـو څخـه ۶٪) د ټـول ولايـت ۳۶٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخـه کوربـه تـوب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتـۍ پـر وړانـدې چـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ تـه شـوې حسـاس او زيانمـن دي او دا کار لـه پخوا نـه محدودې شـوې سرچينې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زيانمنـو کليـو څخـه ۱۹ کلي يـې پـه شـبرغان ولسـوالۍ کـې موقعيـت لـري او د دې جـدول ۹۳٪ (۱۴۵,۰۳۶) راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخـه کوربـه تـوب کـوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | بقيه مسگری | شبر غان | ۱۵,۹۶۱ |
| ۲ | يکه باغ | شبر غان | ۱۲,۶۱۸ |
| ۳ | سخي آباد | شبر غان | ۱۲,۴۳۲ |
| ۴ | عيد محله | شبر غان | ۱۱,۴۲۴ |
| ۵ | ينگی اريغ | شبر غان | ۱۱,۰۴۵ |
| ۶ | آقچه | آقچه | ۹,۹۷۱ |
| ۷ | ترنو اوزبکيه و شبيه افغانيه | شبر غان | ۸,۷۱۳ |
| ۸ | قره بوين | شبر غان | ۸,۲۹۱ |
| ۹ | عرب خانه | شبر غان | ۶,۷۲۱ |
| ۱۰ | قرانچه | شبر غان | ۶,۶۳۲ |
| ۱۱ | مرغاب | شبر غان | ۶,۴۵۱ |
| ۱۲ | سه شنبه افغانيه | شبر غان | ۶,۴۴۳ |
| ۱۳ | صوفی قلعه | شبر غان | ۵,۷۸۶ |
| ۱۴ | افغان تيپه عربيه | شبر غان | ۵,۴۶۲ |
| ۱۵ | شور اريغ | شبر غان | ۵,۲۱۹ |
| ۱۶ | چيتگر خانه | شبر غان | ۵,۲۱۸ |
| ۱۷ | حسن تبين غازگی | شبر غان | ۴,۴۸۷ |
| ۱۸ | شوبی | شبر غان | ۴,۱۹۰ |
| ۱۹ | چهل مرد | شبر غان | ۴,۰۷۵ |
| ۲۰ | التی خواجه (۲) | شبر غان | ۳,۸۶۸ |
| | | مجموعه | ۱۵۵,۰۰۷ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | جوزجان





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| شبر غان | ۱۰۲,۵۹۴ | ۱۷۰,۳۱۱ | ۲۷۲,۹۰۵ |
| آقچه | ۱۱,۸۲۵ | ۱۷,۱۹۹ | ۲۹,۰۲۴ |
| قوش تيپه | ۱۱,۴۴۵ | ۱۷,۳۶۰ | ۲۸,۸۰۵ |
| فيض آباد | ۲۰,۱۱۹ | ۵,۵۸۷ | ۲۵,۷۰۶ |
| خانقاه | ۱۱,۴۰۸ | ۱۳,۹۴۴ | ۲۵,۳۵۲ |
| درزآب | ۸,۸۰۰ | ۳,۹۵۵ | ۱۲,۷۵۵ |
| منگجک | ۵,۴۷۲ | ۶,۰۱۹ | ۱۱,۴۹۱ |
| مرديان | ۷,۸۱۵ | ۶۶۵ | ۸,۴۸۰ |
| خواجه دوکوه | ۵,۳۳۳ | ۲,۱۱۰ | ۷,۴۴۳ |
| قرقين | ۱,۳۸۷ | ۷۸۴ | ۲,۱۷۱ |
| خمياب | ۷۴۷ | ۷۰ | ۸۱۷ |
| عمومي مجموعه | ۱۸۶,۹۴۵ | ۲۳۸,۰۰۴ | ۴۲۴,۹۴۹ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۲۲۸،۱۰۷**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

**۶۳٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي


**۶۸٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۳۲٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي

داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښي | کلنی بهیر | جوزجان




د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښي | جوزجان




د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوي سیمې دي او پخوا يې پرېښې وي بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسلو والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو يا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۲۰۸،۴۹۲**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۹۱٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۲ څخه ۱**
پخواني داخلي بېځایه شوي کس یوازې ۲ ولسوالیو ته راستون شوي: خانقاه او آقچه (۴۹٪)


**۴ څخه ۱**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۲۶٪ کسان خانقاه ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | جوزجان




راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان




د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.


**۱۵۹،۴۰۷**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۳۸،۷۵۱**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۲۴٪)


**۸۰،۹۳۵**
ایران ته تللي دي (۵۱٪)

**۳۳،۶۴۵**
پاکستان ته تللي دي (۲۲٪)


د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | جوزجان





د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | جوزجان





بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان




ایران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | جوزجان



# سکتورېزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنبدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شبر غان | ۲۷۲,۹۰۵ |
| ۲ | آقچه | ۲۹,۰۲۴ |
| ۳ | قوش تیپه | ۲۸,۸۰۵ |
| ۴ | فیض آباد | ۲۵,۷۰۶ |
| ۵ | خانقا | ۲۵,۳۵۲ |
| | عمومي مجموعه | ۳۸۱,۷۹۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | آقچه | ۷۲۸ |
| ۲ | شبر غان | ۲۲۴ |
| ۳ | فیض آباد | ۱۹۸ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۱,۱۵۰ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شبر غان | ۶۲,۱۸۵ |
| ۲ | خانقا | ۱۲,۹۷۱ |
| ۳ | قوش تیپه | ۱۱,۵۹۰ |
| ۴ | فیض آباد | ۵,۳۵۰ |
| ۵ | خواجه دوکوه | ۴,۳۹۵ |
| | عمومي مجموعه | ۹۶,۴۹۱ |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیایي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شبر غان | ۹۱,۴۰۷ |
| ۲ | خانقا | ۱۶,۱۲۳ |
| ۳ | قوش تیپه | ۱۵,۱۵۷ |
| ۴ | منگجک | ۸,۲۲۴ |
| ۵ | آقچه | ۷,۵۷۵ |
| | عمومي مجموعه | ۱۳۸,۴۸۶ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شبر غان | ۳۳,۶۴۷ |
| ۲ | قوش تیپه | ۶,۵۱۸ |
| ۳ | خانقا | ۴,۸۹۱ |
| ۴ | آقچه | ۱,۰۶۹ |
| ۵ | خواجه دوکوه | ۶۲۹ |
| | عمومي مجموعه | ۴۶,۷۵۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شبر غان | ۹۶,۷۲۱ |
| ۲ | قوش تیپه | ۱۶,۸۲۳ |
| ۳ | خانقا | ۱۴,۵۰۴ |
| ۴ | مردیان | ۷,۶۱۹ |
| ۵ | آقچه | ۳,۸۶۳ |
| | عمومي مجموعه | ۱۳۹,۵۳۰ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | جوزجان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### یوه مجرده او مرستو ته نیازمنه مور

۴۵ کلنه ګلنار د فیض آباد ولسوالۍ کوکل داش کلي د خپل ۵ زامن او ۴ لورګانو سره ژوند کوي. د هغې د خاوند د مړینې وروسته هغه د کورنۍ مشره ده.د هغې خاوند د یو نا معلومې ناروغۍ له امله وفات شو.

د هغوی کلي ته نږدې د دولتي ځواکونو او بلواګرو ترمنځ د جنګ له امله ګلنار پرېکړه وکړه چې له خپلې کورنۍ سره ایران ته کډه وکړي. هغه په ایران کې مېشتو خپلوانو لخوا هم دې کار ته هڅول شوې وه. هغې په ۲۰۱۷ کال کې ځپل هر څه خرڅ کړل او ایران ته د سفر پرېکړه یې وکړه. له دې کار سره هغه د ۸۰،۹۳۵ کډوالو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې د ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۸ کلونو په ترڅ کې له جوزجان ولایت څخه ایران ته کډوال شوي.

”ما په ایران کې ډېر ښه ژوند درلوده. د خیاط په توګه مې کار کولای شو او مشر زوی مې هم د مزدور کار په توګه کار کاوه.“

که څه هم د څلورو میاشتو وروسته پولیسو دا کورنۍ ونیوله او بېرته یې افغانستان ته ډیپورټ کړه. ځکه چې هغوی هلته هېڅ هم نه درلودل نو هغوی بیاځلې کوښښ وکړ چې ایران ته ولاړ شي. بدبختانه هغوی د انساني قاچاقبرانو سره مخامخ شول چې هغوی د پیسو په بدل کې دوی یرغمل ونیول ترڅو چې د ګلنار خپلوانو ورته پیسې واستولې او هغوی وکولای شو بېرته جوزجان ولایت ته ستانه شي.

وروسته له دې چې هغوی فیض آباد ولسوالۍ ته ورسېدل تر اوسه هغوی په یوه جونګړه کې ژوند کوي. کله چې هغوی جوزجان ولایت ته ورسېدل نو هغوی کمپله، قالینه او د پخلنځي توکو ته اړتیا لري. له نیکه مرغه د هغوی ګاونډیو ورسره مرسته وکړه او د کور ځینې توکي یې ورکړل.

”مونږ په ستونزمن وضعیت کې یو ځکه چې جوزجان ولایت کې د وچکالۍ او جنګ له امله خواړو او د څښاک اوبو ته لاسرسی محدود دی. دا ستونزمنه ده چې دنده ترلاسه کړم او خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړم. زه نه غواړم چې ماشومان مې په دې شان لوی شي. زه هیله لرم چې بشردوستانه موسسې مونږ سره مرسته وکړي او مونږ له دې وضعیت څخه په ښه توګه خلاص شو.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



ګلنار د ډېریو راستنېدونکو په شان په افغانستان کې د معیشت فرصتونو ته لاسرسی نلري او هیله لري چې بیلابېل سازمانونه وکولای شي د هغې ماشومانو لپاره ښه ژوند جوړ کړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada | MOFAT | Norwegian Ministry of Foreign Affairs | Italian Agency for Development Cooperation | Co-funded by the European Union | په همغږۍ سره